بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دټولیزو رسنیو قانون

رسمي جریده ګڼه ( ۹۸۶)

نېټه ۱۳۸۸/٤/۱۵هـ . ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خواننده گرامی!**

افتخار داریم که بعد از نشر"مجموعه قوانین افغانستان" با شیوهٔ تنظیم موضوعی، اکنون به‌خاطر سهولت بیشتر در دسترسی شما به قوانین مورد نیاز، سلسلهٔ دیگری از قوانین نافذهٔ کشور را با قطع کوچک جیبی در اختیار شما قرار می دهیم.

**ځارنپوه حبیب الله "غالب"**

**وزیر عدلیه**


**نام:** قانون رسانه های همگانی

**ناشر:** وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان

**تهیه و ترتیب:** ریاست نشرات

**مدیر پروژه:** قانونمل محمد رحیم"دقیق" سرپرست ریاست نشرات

**تدارکات و اداری:** سید محمد هاشمی رئیس امور مالی و اداری و احمد خالد عزیزی معاون واحد پروژه بانک جهانی در وزارت عدلیه

**طراح جلد وصفحه‌آرا:** امان الله صداقت(غیبی)،عباس رسولی و حسین امینی

**مصححین:** نورعلم خان، حلیم سروش، محمد رفیع عمری و احسان الله نیکزاد

**مشاورین:** اسماعیل حکیمی و محمد یما قاسمیار

**تاریخ نشر:** ۱۳۹۰

**تیراژ:** ۵۰۰۰

**چاپ:** اول (قطع جیبی)

**قیمت:** ۳۵ افغانی

**مطبعه:** مطبعه طباعتی و صنعتی احمد

**تلفن ریاست نشرات:** ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

**ویب سایت:** www.moj.gov.af


**کلیه حقوق چاپ برای وزارت عدلیه محفوظ است.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو فهرست

## دټلیزو رسنیو قانون

**لومړی فصل: عمومي حکمونه**........................................ ۱۵
مبني............................................................................ ۱۵
موخه........................................................................... **۱۵**
اصطلاحګانې.................................................................. ۱۶
**دوه یم فصل: حقوق او مکلفیتونه**........................................... ۱۸
دفکراوبیان آزادي............................................................ ۱۸
د معلوماتو غوښتل........................................................... ۱۹
قانوني ملاتړ.................................................................... ۱۹
دځواب ورکولوحق............................................................ ۲۰
د ځواب نه خپرول............................................................. ۲۰
صنفي جوړښت.................................................................. ۲۱
**دریم فصل: دچاپي رسنیو تأسیس**........................................... ۲۱
د رسنیو تأسیسېدل............................................................ ۲۱
دپتې او نورو مشخصاتو درلودل............................................ ۲۲
**څلورم فصل: دبرېښنایي ټولیزو رسنیو تأسیس**........................... ۲۲
دبرېښنایي رسنۍ تأسیسول.................................................. ۲۲
عامه برېښنایي رسنۍ........................................................ ۲۳
د افغانستان ملي راډیوټلویزیون............................................ ۲۳
د ملي راډیو تلویزیون د ادارې موقعیت.................................... ۲۳
دندې او مکلفیتونه............................................................. ۲۳
ملي او دیني خپرونې.......................................................... ۲۴
د اضطرار په حالاتو کې د راډیو تلویزیون اداره............................ ۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

د برنامو خوندي کول........................................................ ۲۴
غیردولتي برېښنايي رسنۍ ........................................................ ۲۴
د اصولو په پام کې نیول ........................................................ ۲۵
دخصوصي راډيو او تلويزيونونو آزادي........................................................ ۲۵
د انډول په پام کې نیول........................................................ ۲۵
د ضبط شوو مطالبو ساتل ........................................................ ۲۵
د ادعا حق ........................................................ ۲۵
د برېښنايي رسنيود مسئولو مديرانو مکلفيت........................................................ ۲۶
**پنځم فصل: دټوليزو رسنيو مالي سرچينې** ........................................................ ۲۶
د تمويل سرچينې........................................................ ۲۶
**شپږم فصل: د مطبعو او فرهنګي مؤسسوتأسيس** ........................................................ ۲۷
د تأسيس حق ........................................................ ۲۷
د فعاليت جواز........................................................ ۲۷
**اووم فصل: دامتيازخاوند ،شرطونه او مکلفيتونه** ........................................................ ۲۸
دامتيازخاوند........................................................ ۲۸
دامتيازدخاوندشرطونه........................................................ ۲۸
د اساسنامې لرل ........................................................ ۲۹
دفرهنګي رسنيواومؤسسو ثبتول ........................................................ ۲۹
د رسنيو او فرهنګي مؤسسو د ثبت لپاره د معلو ما تو وړاندې
کول ........................................................ ۲۹
دپتې اوځانګړې نښان درلودل........................................................ ۳۰
محکمې ته د مراجعې حق........................................................ ۳۰
د ملکيت او د فعاليت د امتياز لېږدول........................................................ ۳۰
**اتم فصل: مسئول مدير او دهغه شرطونه اومکلفيتونه** ........................................................ ۳۱
دمسئول مدير درلودل........................................................ ۳۱
د مسئول مدير د ټاکنې شرطونه ........................................................ ۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمضمونونوله خپرولوځخه مسئوليت.................................. ۳۱
دانتقادکوونکي او انتقاد کېدونکي د حقوقوپه پام کې نيول... ۳۲
**نهم فصل: درسنيو عالي شوري**.......................................... ۳۲
د رسنيو د عالي شوري جوړښت ......................................... ۳۲
د ټوليزو رسنيو کمېسيون.................................................... ۳۳
دټوليزو رسنيود کمېسيون دندې.......................................... ۳۳
د افغانستان دملي راډيو ټلويزيون کمېسيون........................ ۳۴
**لسم فصل: هغه آثار او مطالب چې توليد ، چاپ او خپرول يې منع دي**.................................................................................. ۳۵
دممنوعه مطالبو خپرول........................................................ ۳۵
دباخترآژانس ...................................................................... ۳۶
دامتياز سلبول ..................................................................... ۳۷
**يوولسم فصل: متفرقه حکمونه**.......................................... ۳۷
بهرنيواتباعو ته د فلم جوړلو حق........................................ ۳۷
په اساسنامه کې له بدلونونو څخه خبرتيا ............................ ۳۸
دبهرنيو آژانسونو او رسنيو د نمايندګيو مکلفيت................. ۳۸
دکتاب، رسالې او خپروونکي ثبتول ..................................... ۳۹
د قوانينو وضع ..................................................................... ۳۹
د ماليې ورکړه...................................................................... ۳۹
دانفاذ نېټه........................................................................... ۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست(دری)

## قانون رسانه های همگانی

**فصل اول: احکام عمومی** ........................ ۴۷
مبنی ........................ ۴۷
هدف ........................ ۴۷
اصطلاحات ........................ ۴۸
**فصل دوم: حقوق و مکلفیت ها** ........................ ۵۰
آزادی فکر و بیان ........................ ۵۰
مطالبهٔ معلومات ........................ ۵۱
حمایت قانونی ........................ ۵۱
حق جواب دادن ........................ ۵۲
عدم نشر جواب ........................ ۵۲
تشکل صنفی ........................ ۵۳
**فصل سوم: تأسیس رسانه های چاپی** ........................ ۵۳
تأسیس رسانه ها ........................ ۵۳
داشتن آدرس و سایرمشخصات ........................ ۵۴
**فصل چهارم: تأسیس رسانه های همگانی برقی** ........................ ۵۴
تأسیس رسانهٔ برقی ........................ ۵۴
رسانهٔ برقی عامه/ رادیو تلویزیون ملی افغانستان ........................ ۵۵
موقعیت ادارهٔ رادیو تلویزیون ملی ........................ ۵۵
مکلفیت ها و وظایف ........................ ۵۵
برنامه های دینی و ملی ........................ ۵۶
ادارهٔ رادیو تلویزیون در حالات اضطرار ........................ ۵۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

حفظ برنامه‌ها ............................................ ۵۶
رسانه های برقی غیر دولتی.............................. ۵۶
رعایت اصول ............................................ ۵۷
آزادي راديو تلويزيون های خصوصی...................... ۵۷
رعایت توازن............................................ ۵۷
نگهداری مطالب ضبط شده ................................ ۵۷
حق ادعا ................................................ ۵۸
مکلفیت مدیران مسئول رسانه‌های برقی..................... ۵۸
**فصل پنجم: منابع مالی رسانه‌های همگانی** ................ ۵۸
منابع تمویل............................................ ۵۸
**فصل ششم: تأسیس مطابع و مؤسسات فرهنگی**............... ۵۹
حق تأسیس .............................................. ۵۹
جواز فعالیت............................................ ۵۹
**فصل هفتم: صاحب امتیاز، شرایط و مکلفیت‌ها** ............ ۶۰
صاحب امتیاز ........................................... ۶۰
شرایط صاحب امتیاز..................................... ۶۰
داشتن اساسنامه ........................................ ۶۱
ثبت رسانه‌ها و مؤسسات فرهنگی........................... ۶۱
ارایهٔ معلومات غرض ثبت رسانه‌ها و مؤسسات فرهنگی........ ۶۱
داشتن آدرس و نشان مخصوص .............................. ۶۲
حق مراجعه به محکمه..................................... ۶۲
انتقال ملکیت و امتیاز فعالیت............................ ۶۲
**فصل هشتم: مدیر مسئول ، شرایط و مکلفیت های آن**......... ۶۳
داشتن مدیر مسئول....................................... ۶۳
شرایط تعیین مدیر مسئول.................................. ۶۳
مسئولیت از نشر مضامین ................................. ۶۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

رعایت حقوق انتقاد کننده و انتقاد شونده............................۶۴
**فصل نهم: شورای عالی رسانه‌ها** ............................................۶۴
ترکیب شورای عالي رسانه‌ها ..................................................۶۴
کمیسیون رسانه های همگانی .................................................۶۵
وظایف کمیسیون رسانه‌های همگانی.........................................۶۶
کمیسیون رادیو تلویزیون ملی افغانستان.....................................۶۷
**فصل دهم: آثار و مطالبی که تولید ، چاپ و نشر آن ممنوع است** ..۶۸
نشر مطالب ممنوع.................................................................۶۸
آژانس باختر........................................................................۶۹
سلب امتیاز .........................................................................۶۹
**فصل یازدهم: احکام متفرقه** .................................................۷۰
حق تهیه فلم به اتباع خارجی ..................................................۷۰
اطلاع از تغییرات در اساسنامه.................................................۷۰
مکلفیت نمایندگی آژانس‌ها و رسانه های خارجی..........................۷۰
ثبت کتاب، رساله و ناشر .......................................................۷۱
وضع قوانین.........................................................................۷۱
پرداخت مالیه.......................................................................۷۱
تاریخ انفاذ ..........................................................................۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دافغانستان داسلامي جمهوریت ریاست

**ګڼه : (۵۸۶۰)**
**نېټه : ۱۳۸۸/۴/۹**

**دعدلیې وزیرمحترم سروردانش!**

دټولیزورسنیو قانون چې دولسي جرګې د ۱۳۸۷/۶/۱۰ نېټې (۹۶) ګڼې مصوبې پربنسټ دهغې دټولو غړود رأیو په دووثلثو بیا تصویب شو، د افغانستان د اساسي قانون له حکمونو سره د هغه د ځینو موادو د تناقص له امله، دنوموړی قانون د (۱۲۱) مادې دحکم له په پام کې نیولو سره د هغه د مطابقت د څېړنې په غرض، د افغانستان د اسلامي جمهوریت سترې محکمې ته ارجاع او دادی د سترې محکمې دعالي شوري قرار دهغې ادارې د ۱۳۸۸/۱/۲۶ نېټې (۱۷) ګڼې لیک په ضمیمه رارسېدلی او تاسوته در واستول شو څو په رسمي جریده کې د ټولیزو رسنیو قانون او سترې محکمې دعالي شوري د قرار په خپرولو لاس پورې کړئ .

**حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولسي جرگه**
**مصوبه**
**د ټولیزورسنیوقانون**
**دټولو غړو په دوه ثلثه رأیو سره**

**پرله پسي گڼه : (۹۶)**
**دتصویب نېټه : ۱۳۸۷/۶/۱۰**

ولسي جرگې د ۱۳۸۷/۶/۱۰نېټې د یکشنبې په ورځ په عمومي غونډه کې د اساسي قانون د څلورنوي یمې مادې د حکم پر بنسټ د ټولیزو رسنیو قانون د دوه یم ځل لپاره د ټولو غړوپه دوه ثلثه رأیو سره تصویب کړ .

**په درنښت**
**امان الله پیمان**
**دولسي جرگې دوه یم نائب**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دافغانستان اسلامي جمهوریت
## ستره محکمه
## عالي شوري
## د افغانستان اسلامي جمهوریت د سترې محکمې دعالي شوري
## د ۱۳۸۸/۱/۲۶نېټې د (۶) ګڼې قضائي قرار

دسترې محکمې عالي شوري له ولسي جرګې څخه دملي راډیو تلویزیون د رئیس دباورد رای اخستنې په هکله لاندې قرار صادرکړ:
دهغوذواتو د باور د رأیو اخیستل چې باید دولسي جرګې لخوا تأیید شي ، د اساسي قانون په متن کې په صراحت سره تسجیل شویدي چې عبارت دي له:
۱- وزیران،لوي څارنوا ل،دمرکزي بانک رئیس ،دملي امنیت رئیس او د سرې میاشتې رئیس ،د (۶۴) مادې د(۱۱) فقرې له حکم سره سم .
۲- دسترې محکمې رئیس او غړي د(۶۴) مادې د(۱۲) فقرې له حکم سره سم .
۳- داساسي قانون پرتطبیق باندې د څارنې دخپلواک کمېسیون غړي، د اساسي قانون د(۱۵۷) مادې له حکم سره سم.
څرنګه چې لیدل کېږي دولسي جرګې په واسطه دپورته یادو شوو ذواتو د ټاکنود تأیید شرط، یو منصوص امردی، هرډول ایزاد پرهغۀ داساسي قانون دتعدیل په معني دی چې یوازې د لویې جرګې واک ګڼل کېږي .
دزیاتو معلوماتو لپاره باید زیاته کړو چې د لویې جرګې له جوړېدو دمخه داساسي قانون دمسودو په ټولونسخوکې، د(۶۴) مادې (۱۱) فقره،پدې متن تسجیل شوې وه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوزيرانو او لوی څارنوال ټاکنې، دولسي جرګې په تأييد اوده هغوی عزل او استعفي[1] .

(۱) ګڼې ضميمې ته دې مراجعه وشي .

دلويې جرګې په واسطه په ياده شوې فقره کې د مرکزی بانک د رئيس، دملي امنيت درئيس او سرې مياشتې د رئيس ايزاد ،دجدې د(۷) په نسخه کې زيات اومنظور شوی دی.

(۲) ګڼې ضميمې ته دې مراجعه وشي .

ځکه خو به نوموړې فقره کې بل هر ډول ايزاد پرته لدې چې د لويې جرګې لخوا اعمال شي مجاز ندی.

په دې توګه د سترې محکمې عالي شوري،دولسي جرګې لخوادملي راديو تلويزيون درئيس دټاکنې دتأييدولوشرط داساسي قانون پر خلاف حکم کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ټولیزو رسنیو قانون

## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**مبني**
**لومړۍ ماده:**
دغه قانون داسلام دسپېڅلي دین داصولواوحکمونوله په پام کې نیولو او داساسي قانون دڅلور دیرشمې مادي له حکم سره سم اود بشر دحقوقو دنړیوالې اعلامیې نولسمې مادې ته په پام سره د فکر او بیان د آزادۍ د حق د تأمینولو او په هېواد کې د ټولیزو رسنیو د فعالیت د تنظیمولو په مقصد وضع شوی دی .

**موخه**
**دوه یمه ماده:**
د دغه قانون موخې عبارت دي له:
۱- د فکر او بیان د آزادۍ دحق ملاتړاو تضمین .
۲- د ژورنالیستانو دحقوقو ملاتړاو د رسنیو دآزاد فعالیت د شرایطو تأمینول .
۳- د آزادو، خپلواکو او کثرت غوښتونکو ټولیزو رسنیو د وسایلو رواجول او پرمختیا .
۴- د هېـواد د اتبـاعو د فکـر او احـساس د څرګنـدولو اود وینـا ، لیکنې، رسم، تصویر، په فیته کې د ثبتولو، تمثیـل ، حرکت او نـورو علمي، ادبي، هنري او چاپ او خپرولو د پدیدو په واسطه په عادلانـه توګه دحقایقو د انعکاس د مناسبو زمینو برابرول .
۵- داسلام دسپېڅلي دین حکمونو اواصولوته په پام سره دبشر دحقوقو په نړیواله اعلامیه کې مسجل دبیان او ټولیزو رسنیود اصل په پام کې نیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- د ټولیزو رسنیو د وسایلو له سالمې ودې سره د مرستې په منظور په داسې ډول چې وکولای شي په هېواد کې د صحیحوخبرونو، اطلاعاتو، زده کړې او روزنې د خپرولواو دعلم او ثقافت د غوړېدو اغېزمن وسایل وي، دخلکو نظریې له ژورنالیستیکي معیارونو، اصولو اوارزښتونو (صداقت ، نا پلوۍ او توازن) سره سم منعکس کړي .

## اصطلاحګانې

**درېیمه ماده:**

په دې قانون کې لاندنۍ اصطلاحګانې دغه مفاهیم لري:

۱- رسنۍ :له لاندنیو وسایلو څخه په ګټې اخیستنې سره د پیغام ، معلوماتو او اطلاعاتو دلېږدونې وسیله ده :

- برېښنایي رسنۍ :راډیو ، ټلویزیون، کېبلي شبکه او انترنت.
- چاپي رسنۍ:ورځپاڼه ،جریده (اووه نیزه، پنځلس ورځنۍ خپرونه ، میاشتنۍ ،ګاهنامه (تقویم)،فصل نامه، کلنۍ ، پوستر او خبرنامه).

۲- په دې قانون کې ټولیزې رسنۍ په لاندې ډولونو وېشل کېږي :

- عامه رسنۍ :هغه رسنۍ ده چې په عامه خلکو پورې اړه لري او د دولت، د اعلانونو دخپرولواود خدمتونو دوړاندې کولو له لارې تمویلېږي.
- خصوصي رسنۍ: هغه رسنۍ ده چې په حقیقي اشخاصو، سیاسي، اقتصادي ،ټولنیزو او فرهنګي سازمانونو پورې اړه لري او دهغو لخوا سمبال او تمویلېږي .

۳- ژورنالیست : هغه حرفوي او مسلکي شخص دی چې د رسنیو له لارې خپره نیز مواد اومحتوي (منځپانګه) ،برابر او وړاندې کوي.

۴- مطبعه : هغه اقتصادي او تخنیکي دستګاه ده چې چاپي خدمتونه سرته رسوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵-** طابع: هغه حقيقي يا حکمي شخص دی چې د ملکيت پربنسټ يا دمالک په استازيتوب د مطبعې د چارو متصدي وي.
**۶-** ناشر( خپرونکی ) : هغه حقيقي ياحکمي شخص دی چې دغيرموقوتو آثارو دچاپولو او خپرولواجازه لري.
**۷** – خپرول: د ټوليزورسنيو له لارې د پيغام اوخبر دلېږدونې عمليه ده.
**۸-** دفلم د توليد مؤسسه: هغه ټولنه ده چې دخپلې اساسنامې اوموخو په رڼا کې مستند او سينمايي فلمونه اوعکس او سلايد توليدوي.
**۹-** خپره نيزه مؤسسه : هغه حکمي شخصيت دی چې داساسنامې له مخې تأ سيس او دبرېښنايي، چاپي، موقوتو او غير مو قوتو رسنيو خپرونې، له خپلو موخو سره سم چاپ او خپروي .
**۱۰-** دژورناليزم روزنيزه ټولنه: هغه ټولنه ده چې په لنډمهاله يا اوږد مهاله توګه د ژورناليزم په مسلکي روزنې لاس پورې کوي .
**۱۱-** دارالترجمه:هغه حکمي مؤسسه ده چې له اساسنامې سره سم حق لري مطالب او مضمونونه له يوې ژبې څخه بلې ژبې ته وژباړي .
**۱۲-** دخبررسونې آژانس :هغه حکمي شخصيت دی چې د اړيکيو په برخه اود اطلاعاتو په راټولولو او رسو لو کې فعاليت کوي .
**۱۳-** د تبليغاتو او اعلاناتو شرکت: هغه سوداګريز حکمي شخصيت دی چې له اساسنامې سره سم په تبليغاتو او اعلانونو لاس پورې کوي.
**۱۴-** دنسخې اخيستنې حق(کاپي رايټ): د ثبت شويو خپرونو د معنوي مالکيت اود امتياز د حق لرل دي چې له منل شويو معيارونو سره سم دجلاقانون په واسطه تنظيمېږي .
**۱۵-** دامتياز خاوند: هغه حقيقي يا حکمي شخص دی چې د برېښنايي، چاپي ټوليزو رسنيو، دژورناليزم دروز نيز مرکز، مطبعې، خپره نيزې مؤسسې، دارالترجمې دخبررسونې آژانس، دفلم جوړولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤسسې او د تبلیغاتو او اعلانونو د شرکت په تأسیس اوتدویر لاس پورې کوي.

۱۶- مسئول مدیر: هغه شخص دی چې په بالفعل ډول د دغې مادې په (۱۵) جزءکې په درج شویو مؤسسو پورې د اړوندو خپره نیزو چارو مسئولیت پرغاړه لري .

۱۷- راډیو: دټولیزواړیکیواو خبررسونې سمعي وسیله ده .

۱۸- ټلویزیون : دټولیزو اړیکیو اوخبررسونې سمعي او بصري وسیله ده .

۱۹- کېبلي شبکه : سمعي اوبصري ټولیزه رسنۍ ده چې ګډونوالوته ملي او بین المللي اطلاعاتي، ښوونیز، روزنیز، فرهنګي او تفریحي پروګرامونه وړاندې کوي.

۲۰- اعلانونه : حقیقي او حکمي اشخا صوته د یو ډول سمعي او بصري خدمتونو وړاندې کول دي چې په برېښنایي اوچاپي ټولیزو رسنیوکې د پیسو او یا متقابلو خدمتونو په بدل کې ترسره کېږي .

۲۱- مرسته: د حقیقي یا حکمي اشخاصوله خوا د هرډول مرستې اجراء ده چې دټولیزورسنیو دمادي یا معنوي پیاوړتیا لپاره ترسره کېږي.

## دوه یم فصل
## حقوق او مکلفیتونه

### دفکراوبیان آزادي

**څلورمه ماده:**

(۱) هرشخص دفکراوبیان دآزادۍ حق لري .

ددولتي چارواکوله خوا له لاس وهنې، محدودیت اوتهدید پرته د قانون دحکمونوپه حدودوکې د معلوماتو، اطلاعاتو او نظریو غوښتنه، ترلاسه کول اولېږدول په دې حق کې شامل دي.په دې حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د معلوماتو دخپرولو ،وېشلو او ترلاسه کولو د وسایلو آزاد فعالیت هم شاملېږي .

(۲) دولت، دټولیزو رسنیو د آزادۍ ملاتړ، پیاوړې او تضمینوي یې . ددولت او دولتي اداروپه ګډون هېڅ حقیقي یا حکمي شخص نشي کولای د خبري یا معلوماتي رسنیو آزاد فعالیت منع ، تحریم، سانسور یا محدود کړي او یا په بل ډول د ټولیزو او معلوماتي رسنیو د خپرونو په چارو کې لاس وهنه وکړي ،خو ددغه قانون له حکمونو سره سم .

**د معلوماتو غوښتل**

**پنځمه ماده:**

هرشخص حق لري ،معلومات وغواړي او ترلاسه یې کړي .دولت د هېواد داتباعو له غوښتنې سره سم، هغه معلومات چې غوښتل کېږي ، دهغوی په واک کې ورکوي.خو داچې غوښتل شوي معلومات محرم وي اوافشاء کول یې دهېواد امنیت، ملي ګټې او ځمکنۍ بشپړتیا په خطر کې واچوي او یا د نورو حقوقو ته زیان ورسوي.

**قانوني ملاتړ**

**شپږمه ماده:**

(۱) ژورنالیستان د انتقادي رپوټونو او نظریو په خپرولو پورې د اړوندو مسلکي فعالیتونو په ترسره کولو کې تر قانوني ملاتړ لاندې نیول کېږي.

(۲) ژورنالیستان حق لري د خپلو معلوماتي سرچینو له څرګندولو څخه ډډه وکړي خو داچې واکمنې محکمې د هغو د څرګندولو په هکله حکم کړی وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دځواب ورکولوحق**

**اوومه ماده:**

(۱) هرحقیقي یا حکمي شخص چې دیوې ټولیزې رسنۍ له خوا پرې تعرض وشي، د هغهٔ شخصیت، اعتبار اوماديگټې زیانمنې شي، حق لري، دهغهٔ د رد ځواب په هم هغې رسنۍ کې ورکړي .

(۲) اړونده رسنۍ دې له ځنډ پرته ځواب په وړیا توګه دهم هغې رسنۍ په وروستۍ ګڼه یا خپرونه کې خپور کړي .

(۳) ورکړل شوی ځواب دې له جرمي ماهیت څخه پاك وي او په هغې رسنۍ کې په ادعا شوې موضوع پورې منحصر وي ، او په لیکنۍ بڼه دې د زیانمن او یا د هغهٔ د وکیل په لاسلیک د ټولیزې رسنۍ مسئول مدیر ته وسپارل شي .

(۴) دځواب د نه خپرولوپه هکله هرډول شکایت، اړوندکمېسیون ته راجع کېږي .

(۵) د ملي شورې د غونډو او علني محکمودبهیر درپوټ په هکله دځواب حق صدق نه کوي، خوداچې دنوموړوغونډوبهیر دیوې رسنۍ لخوا تحریف شوی وي.

**د ځواب نه خپرول**

**اتمه ماده:**

ټولیزې رسنۍ په لاندې مواردو کې کولای شي د ځواب له خپرولو څخه ډډه وکړي:

۱- ځواب دبحث له موضوع څخه بهر وي .

۲- ځواب له نوي ورځو ځنډ وروسته رسنۍ ته رسېدلی وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صنفي جوړښت**

**نهمه ماده:**

ژورنالیستان او د ټولیزو رسنیو نور غړي کولای شي د اړوندو صنفي ګټو د دفاع په موخه د قانون له حکمونو سره سم خپلواکې صنفي اتحادیې، ټولنې او مرکزونه جوړ کړي .

## درېیم فصل
## دچاپي رسنیو تأسیس

**د رسنیو تأسیسېدل**

**لسمه ماده:**

(۱) دهېواد اتباع، سیاسي ګوندونه، ټولنیز سازمانونه، کورنۍ غیر دولتي مؤسسې او د بهرنیو هېوادونوپناه غوښتونکي او دولتي اداري کولای شي ددغه قانون له حکمونو سره سم چاپي رسنۍ تأسیس کړي .

(۲) په افغانستان کې بهرنۍ سیاسي نمایندګۍ د دیپلوماتیکو موازینو په پام کې نیو لو سره کولای شي د خبرنامې په چاپولو اوخپرولو لاس پورې کړي .

(۳) دنړیوالو او بین الحکومتي مؤسسو نمایندګۍ کولای شي دخپل کارپه ساحو کې د اړوندو وزارتونو او ټولنو په مخکنۍ خبرتیا سره په علمي څېړنو او د موقوتو او غیر موقوتو خپرونو په چاپولو او خپرولو لاس پورې کړي.

(۴) رپوټونه او علمي څېړنې دې د اړوندو وزارتونو او ټولنو د مخکنۍ خبرتیا په اساس صورت ومومي .

(۵) هغه بهرنۍ غیر دولتي مؤسسې ( NGOS ) چې د قانون له حکمونو سره سم جوړې شوې وي، په هغهٔ صورت کې چې مسئول مدیرئې دافغانستان له اتباعو څخه وي کولای شي د خپل تخصصي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار په ساحه کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د اجازې له تر لاسه کولو وروسته، د موقوتو او غیر موقوتو خپرونو په خپرولو لاس پورې کړي .

(۶) ددغه قانون د دریمې مادې په دوه یم جزء کې درج شوې رسنۍ له دمخه ثبت څخه پرته تأسیس او خپرېدلای شي .

په هغه صورت کې چې خپرونه مخکې له ثبت څخه خپره شوې وي، د امتیاز خاوند مکلف دی چې د دوو اوونیو په ترځ کې خپله خپرونه د دغه قانون له حکمونو سره سم ثبت کړي .

**دپتې او نورو مشخصاتو درلودل**

**یوولسمه ماده:**

چاپي رسنۍ دخپرونې د نوم، مشخصې پتې، دمطبعې د نوم اوځای، د امتیاز د خاوند او مسئول مدیرنومونو او دهغې د خپرېدو د نېټې درلودونکې وي .

## څلورم فصل
## دبرېښنایي ټولیزو رسنیو تأسیس

**دبرېښنایي رسنۍ تأسیسول**

**دوولسمه ماده:**

دهېواد اتباع ،سیاسي ګوندونه ، ټولنیز سازمانونه، غیردولتي مؤسسې اوکورني خصوصي شرکتونه او دولتي اداري کولای شي ددغه قانون له حکمونو سره سم برېښنایي رسنۍ تأسیس کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عامه برېښنايي رسنۍ**

**د افغانستان ملي راډيوټلويزيون**

**ديارلسمه ماده:**

د افغانستان ملي راډيو تلويزيون د افغانستان په ملت پوری اړوند ټولنيزه رسينۍ ده چې د اجرائيه قوې په چوکاټ کې ديو مستقل رياست په توګه فعاليت کوي او بودجه يې د حکومت، اعلانونو او د خدمتونو د وړاندی کولو له لارې تأمينيږي.

________*

**د ملي راډيو تلويزيون د ادارې موقعيت**

**څوارلسمه ماده:**

دملي راډيو ټلويزيون مرکزي اداره په کابل ښار کې موقعيت لري اوسيمه ييزې ادارې يې په ولاياتو کې مستقرې دي .

**دندې او مکلفيتونه**

**پنځلسمه ماده:**

دملي راډيو ټلويزيون اداره مکلفه ده خپلې خپرونې داسلام د مبين دين د حکمونو او اصولو په رڼاکې، دافغانستان د ملت له ملي او

---

* دستري محکمې عالي شوري د خپل ۱۳۸۸/۱/۲۶ نېټې د (۶) ګڼې له قضائي قرار سره سم، دټوليزو رسينو دقانون دديارلسمي مادې دويم پراګراف چې داسې څرګندوي:
دملي راډيو تلويزيون د رئيس ټاکل دولسي جرګې په تأييد دجمهور رئيس لخوا صورت مومي، دافغانستان داساسي قانون خلاف تشخيص کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنوي ارزښتونو سره سمې عياري کړي او په خپلو خپرونو کې خبر رسونه او د ديني، علمي ، فرهنگي او اقتصادي ښوونې او رواني او اخلاقي امنيت تعميمول په پام کې ونيسي .

**ملي او ديني خپرونې**

**شپاړسمه ماده:**

د ملي راډيو ټلويزيون اداره دې د بشپړې نا پلوۍ له په پام کي نيولو سره دهېواد دملي يووالي د ټينگښت او ديني اوملي ارزښتونو د پياوړتيا لپاره خپلې خپرونې په داسې توگه تنظيم کړي چې د هېواد د ټولو مېشتو قومونود فرهنگ، ژبې، ديني او مذهبي عقيدې منعکسوونکې وي.

**د اضطرار په حالاتو کې د راډيو تلويزيون اداره**

**اوولسمه ماده:**

د اضطرار په حالاتو کې د افغانستان د ملي راډيو ټلويزيون اداره په بشپړه توگه د جمهور رئيس تر نظر لاندې عمل کوي.

**د برنامو خوندي کول**

**اتلسمه ماده:**

دملي راډيو ټلويزيون اداره مکلفه ده ترڅو خپلې ټولې ثبت او ضبط شوې خپرونې د ملي راډيو ټلويزيون په آرشيف کې خوندي کړي .

**غيردولتي برېښنايي رسنۍ**

**نولسمه ماده:**

دخصوصي راډيواو ټلويزيونو نو اداري خپل فعاليتونه ددې قانون د حکمونوپه رڼاکې سرته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اصولو په پام کې نیول**

**شلمه ماده :**

دخصوصي راډیواو ټلویزیونونوادارې مکلفې دي چې په خپلو خپرونو کې د اسلام دسپېڅلي دین اصول او حکمونه او د افغانستان د ملت ملي، معنوي او اخلاقي ارزښتونه او رواني امنیت په پام کې و نیسي.

**دخصوصي راډیو او تلویزیونونو آزادي**

**یوویشتمه ماده:**

دخصوصي راډیواو ټلویزیونونو ادارای د دغهٔ قانون دحکمونو له په پام کې نیولوسره دخپلوټولو پروګرامونو په برابرولو اوتدوینولو کې خپلواکې دي .

**د انډول په پام کې نیول**

**دوه ویشتمه ماده:**

د خصوصي راډیو او ټلویزیونونو ادارې دې دا ړخونواوسیاسي شخصیتونو یو د بل پر وړاندې په موضع ګېرۍ کې انډول مراعات کړي او د دواړو خواوو نظریات دې په نا پلوه توګه خپارهٔ کړي.

**د ضبط شوو مطالبو ساتل**

**درویشتمه ماده:**

دخصوصي راډیو او ټلویزیونونو ادارې مکلفې دي چې خپلې ټولې ثبت او ضبط شوې خپرونې په خپلو آرشیفونو کې لږترلږهٔ تر درې کالو پورې خوندي کړي .

**د ادعا حق**

**څلېریشتمه ماده:**

که چېرې حقیقي یا حکمي شخص په لیکلې توګه ادعا وکړي چې حق یې د یوې ټولیزې رسنۍ په پروګرام کې ضایع شوی دی کولای شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په خپل مالي لګښت د هغې رسنۍ له آرشیف څخه تکثیر او د ګټې اخیستنې وړ وګرځوي.

**د برېښنايي رسنيود مسئولو مديرانو مکلفيت**
**پنځه ويشتمه ماده**

(۱) برېښنايي ډله ييزو رسنيو مسئول مديران دي په خپلوزده کړه ييزو خپرونوکې ديني،اخلاقي، روغتيايي، د ژوند چاپېريال،د پوهنې د اهميت اودمخدره توکو دکرکېلې، توليد او مصرف اود مسکراتو د استعمال د زيان مسئلو ته ځای ورکړي.

(۲) دبرېښنايي ټوليزو رسنيو مسئول مديران مکلف دي چې دخپلو شبکوله لارې پنځه وخته آذان خپورکړي اودخپلو خپرونو په ترتيب کې داسلامي سپېڅلو ورځو او د روژې دمبارکې مياشتې تقدس په پام کې ونيسي.

## پنځم فصل
## دټوليزو رسنيو مالي سرچينې

**د تمويل سرچينې**
**شپږويشتمه ماده:**

(۱) ټوليزې رسنۍ کولای شي ددې قانون له حکمونو سره سم له لاندې لارو څخه ځان تمويل کړي:

۱- دحقيقي يا حکمي اشخاصو، کورنيو اوبهرنيو توليدي او سوداګريزو شرکتونو، سياسي اوفرهنګي ټولنو او سياسي ګوندونو داعلانونو، پيغامونو او سياسي، ديني، مذهبي او ټولنيزوبرنامو خپرول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- لـه هغـو حقیقـي یـا حکمـي اشخاصـو، نړیوالـو او ملـي مرسـته کوونکـو مؤسـسو څخـه دبـسپنې اخیـستل چـې دټـولیزو رسـنیو دپرمختیا لپاره فعالیت کوي .

(۲) دټولیزو رسنیو مسئول مدیران مکلف دي چې خپل کلنی مالي رپوټ د رسنیو عالي شوري او مالیـــې وزارت ته وړانـدې کړي .

(۳) دعوایدو سرچینې او مبالغ باید روښانه او شفاف وي .

(۴) د بیـې پـه بـدل کـې حقیقـي او حکمـي اشخاصـوته د مـسلکي او تخصصي خدمتونو برابرول.

## شپږم فصل
## د مطبعو او فرهنګي مؤسسوتأسیس

### د تأسیس حق

**اووه ویشتمه ماده:**

د هېـواد اتبـاع ، سیاسـي ګوندونـه ، ټـولنیز سـازمانونه ، غیردولتـي کورني اوبهرني شرکتونه او مؤسسې  او دولتي اداري حق لـري د دغـهٔ قـانون  لـه احکـامو سره سم  مطبعې، دفلم د تولیـد ، خپـره نیـزې، د ژورنالیزم د زده کړې، دارالترجمې، د خبر رسوونکي  آژانس مؤسـسې د اعلانونو او تبلیغاتو شرکتونه تأسیس کړي  .

### د فعالیت جواز

**اته ویشتمه ماده:**

د هېـواد اتبـاع ، سیاسـي ګوندونـه، ټـو لنیـز سـازمانونه، کـورني او بهرنـي خـصوصي شـرکتونه او مؤسـسې  چـې ددغـهٔ قـانون  پـه اووه ویشتمې مادې کې درج شوې مؤسسې تأسیسوي، مکلف دي د هغـو د فعالیت جواز د اطلاعاتو او فرهنګ له وزارت څخه ترلاسه کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووم فصل
## دامتیازخاوند ، شرطونه او مکلفیتونه

### دامتیازخاوند
**نهه ویشتمه ماده:**

ټولیزې رسنۍ او ددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې درج شوې مؤسسې د امتیاز خاوند لرونکې وي .

### دامتیازدخاوندشرطونه
**د پرشمه ماده:**

دټولیزو رسنیو او ددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې د درج شوو مؤسسودامتیازخاوندان دلاندې شرایطو لرونکې وي:

(الف) حقیقي اشخاص

۱- د هېواد د تابعیت سندلرل .

۲- د اتلس کلنې عمربشپړول .

۳- د واکمنې محکمې د حکم پر بنسټ له مدني حقونو څخه نه بې برخې والی.

(ب) حکمي اشخاص

۱- د دولت په اړوندو ادارو کې ثبت او راجستر .

۲- د اړوندو مسئولو ادارو له خوا د افغاني هویت تثبیت .

ددغه قانون د لسمې مادې په (۲ او۳) فقره کې درج شوي اشخاص او ټولنې لدې حکم څخه مستثنی دي .

۳- د واکمنې محکمې د حکم پر بنسټ له مدني حقوقو څخه نه بې برخې والی.

بهرنۍ اشخاص او مؤسسې باید د خپل متبوع هېواد د تابعیت سند ولري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اساسنامې لرل**

**یو د پرشمه ماده:**

دټولیزو رسنیواو د دغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې د درج شوو مؤسسو د امتیاز خاوندان مکلف دي د خپلو رسنیو یا مؤسسو او د هغو د فعالیتونو دڅرنګوالي په هکله په اړونده اساسنامه کې لاژم معلومات چې موخې، تشکیل، واکونه او دندې،د پانګې مقدار او مالي سرچینې په برکې ونیسي ، تنظیم کړي .

**دفرهنګي رسنیواومؤسسو ثبتول**

**دوه د پرشمه ماده:**

دټولیزورسنیو او ددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې د درج شوو مؤسسو د امتیاز خاوندان مکلف دي چې خپلې رسنۍ اومؤسسې د دغه قانون له درج شوو حکمونو سره سم ثبت کړي .

**د رسنیو او فرهنګي مؤسسو د ثبت لپاره د معلوما تو وړاندې کول**

**دري د پرشمه ماده:**

د ټولیزو رسنیو او ددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې د درج شوو مؤسسو د امتیاز خاوندان مکلف دي دلاندنیو معلوماتو لرونکی بیان لیک، دثبتولپه خاطر د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته وړاندې کړي:

۱- بشپړه پیژندګلوي .
۲- دفعالیت څرنګوالی .
۳- درسنۍ نوم .
۴- د هغې د فعالیت ځای.
۵- دفعالیت موخه اومرام .
۶- دتمویل سرچینه او د پانګې اندازه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- په چاپي رسنيوکې : تيراژ، ژبه، ډول ، خپرنيزه محتوي دچاپ وخت ، قطع او صحافت .
۸- په برېښنايي رسنيو او ددغه قانون په اووه ويشتمې مادې کې په درج شوو مؤسسو کې د ما شينونو او تجهيزاتو د کميت او کيفيت تثبيتول .

**دپتې اوځانګړي نښان درلودل**

**څلور دېرشمه ماده:**

ټوليزې رسنۍ او د دغه قانون په اووه ويشتمې مادې کې درج شوې مؤسسې دپتې، مهر او ځانګړي نښان لرونکې وي .

**محکمې ته د مراجعې حق**

**پنځه دېرشمه ماده:**

که چېرې دامتيازخاوند دجواز دنه ثبت يا صادرولو په هکله د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت تصميم دقانون د حکمونو مغاير وبولي، کولای شي اړوند کمېسيون ته مراجعه وکړي. د نه قناعت په صورت کې کولی شي دمحکمې پر وړاندې دعوي اقامه کړي .

**د ملکيت او د فعاليت د امتياز لېږدول**

**شپږ دېرشمه ماده:**

(۱) دټوليزو رسنيو او د دغه قانون په اووه ويشتمې مادې کې د درج شوو مؤسسود ملکيت او دفعاليت دامتياز لېږدول ( پلورنه، هبه، ميراث) مجازدي .
(۲) دفعاليت د امتياز حق هغه شخص ته لېږدول کېدای شي چې په دې قانون کې د درج شوو شرطونو لرونکی وي .
(۳) بل شخص ته د رسنيواو پورته ذکر شويو مؤسسو دملکيت يا د امتياز د حق دخرڅلاو او يا دهغو د هبې په صورت کې ددغه قانون په حکمونو کې درج شوي مراتب ، بيا تطبيقېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) د امتیـاز دخاوندد مړینې یـا دحقـوقي اهلیـت د دلاسـه ورکولوپـه صورت کې دمادي ملکیت په هکله ددې قانون اومدني قانون له حکمونوسره سم اجراآت کېږي او معنوي امتیـاز یې هغـه شـخص تـه لېږدول کېږي چې وارثـان ورسـره موافقـه ولـري او ددغـه قـانون پـه حکمونوکې درج شوي شرطونه ولري .

## اتم فصل

## مسئول مدیر او دهغه شرطونه اومکلفیتونه

**دمسئول مدیر درلودل**

**اووه دېرشمه ماده:**

ډله ییزې رسنۍ او ددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې درج شوې مؤسسې د مسئول مدیر لرونکې وي.

**د مسئول مدیر د ټاکنې شرطونه**

**اته دېرشمه ماده:**

هغـه شـخص دمـسئول مدیرپـه توګـه ټاکـل کېـدای شـي چې لانـدني شرطونه ولري :

۱- دهېواد د تابعیت دسند لرل .

۲- دیو ویشت کلنې عمربشپړ ول.

۳- د مسلکي زده کړو دسند لرل یا ددرې کلنۍ مسلکې تجربې لرل.

۴- د واکمنـې محکمـې پـه حکم لـه مـدني حقوقوڅخـه نـه بې برخې والي .

**دمضمونونوله خپرولوڅخه مسئولیت**

**نهه دېرشمه ماده:**

مـسئول مدیرپـه ډلـه ییـزو رسـنیو او د دغـه قـانون پـه اووه ویـشتمې مـادې کـې پـه درج شـوو مؤسـسو کـې دخپلـو مـضامینو ،دبرنـامو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمحتویاتو او هنري ،زده کړه ییزو او تبلیغاتي پروګرامونو دتولید په وړاندې مسئول دی.

**دانتقادکوونکي او انتقاد کېدونکي د حقوقوپه پام کې نیول**
**څلوېښتمه ماده:**
مسئول مدیر مکلف دی چې په اړونده چاپي اوبرېښنائي رسنۍ کې د انتقادکوونکي او انتقادکېدونکي د حقوقوبرابري په پام کې ونیسي .

## نهم فصل
## درسنیو عالي شوري

**د رسنیو د عالي شوري جوړښت**
**یوڅلوېښتمه ماده:**
(۱) د ډله ییزو رسنیوعالي شوري، د رسنیزې پالیسۍ دطرحې او تدوین په موخه داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت د وزیر، د مخابراتو وزارت د مسلکي معین، د سترې محکمې د استازي، د عدلیې وزارت د استازي، له مشرانو جرګې څخه د دوو تنو، له ولسي جرګې څخه د دوو تنو ،د علماوو د شوري په استازیتوب د یوه تن جید دیني عالم او د ژورنالیزم د ټولنې د مسلکي او تجربه لرونکو دووتنو ژورنالیستانو او د مدني ټولنې غړو چې دهغوی له خوا وړاندیز شوي وي په ترکیب، د دریوکلونو لپاره جوړېږي .
(۲) درسنیو د عالي شوري یوغړی د آزادو ټاکنو له لارې د هغوی له منځ څخه درئیس په توګه ټاکل کېږي .
(۳) درسنیو د عالي شوري د غړو په توګه د ژورنالیستانو او مدني ټولنې د څلورو تنو غړود ټاکلو ډول او ددغې شوري د کار او فعالیت څرنګوالی دځانګړې کړنلارې په وسیله تنظیمېږي .
(۴) د رسنیو عالي شوري د لاندنیو دندو او واکونو لرونکې ده :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د اوږد مهالي رسنیزې پالیسۍ طرح کول او تصویب .
۲- جمهور رئیس ته د منظورۍ په غرض د مسلکي، خپلواکو او نېک شهرت لرو نکو شخصیتونو له منځ څخه د ډله ییزو رسنیود کمېسیون د رئیس او غړو او دملي راډیو ټلویزیون د اداري دکمېسیون د رئیس اوغړو، وړاندیز .
۳-حکومت ته د ملي راډیو تلویزیون د اداري بودجې وړاندیز اوملي شورې ته دکلني رپوټ وړاندې کول.

**د ټولیزو رسنیو کمېسیون**

**دوه څلوېښتمه ماده:**

(۱) د ټولیزو رسنیو د فعالیت د لاښه تنظیم په موخه د اووتنو مسلکي، لوړو زده کړو لرونکو او د ژورنالیزم د تجربې په لرلواو د قومي او جنسیتي جوړښت له په پام کې نیولوسره د ټولیزو رسنیو کمېسیون جوړېږي .
(۲) د کمېسیون څلور تنه غړي د درېوکلونو او درې تنه نوریې د دوو کلونو لپاره غوره کېږي .
(۳) د کمېسیون غړي تر دووځلو زیات د غوره کیدو حق نه لري .
(۴) د کمېسیون دغړو معاش دقانون مطابق د اطلاعاتواوفرهنګ وزارت له بودجې څخه ورکول کېږي .
(۵) د کمېسیون د کار څرنګوالی د ځانګړې کړنلارې په واسطه تنظیمېږي .

**دټولیزو رسنیود کمېسیون دندې**

**درې څلوېښتمه ماده:**

ددغه قانون په دوه څلوېښتمه ماده کې درج شوی کمېسیون دلاندنیو دندو او واکو نو لرونکی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د چاپي رسنیو او ددغه قانون په اووه ویشتمه ماده کې د درج شوو مؤسسو غوښتونکو د غوښتنلیکونو څېړنه او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته دهغو د منظورۍ، ثبت اود جواز دورکولو وړاندیز .
۲- دبرېښنایي رسنیو د غوښتونکو دغوښتنلیکونو څېړنه او داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت ته دهغو دمنظورۍ وړاندیز،د مخابراتو وزارت په موافقې د فریکونسۍ له ټا کلو څخه وروسته .
۳- د ټولیزو رسنیو له فعالیت څخه څارنه .
۴- له ټولیزو رسنیو څخه د شکایتونو څېړل او د هغو د حقوقي شخړو حل کول.
۵- عدلي مراجعو ته د ټولیزو رسنیو د جرمي سرغړونو لېږل .
۶- د ټولیزو رسنیو چلوونکو ته د تخنیکي مشورو ورکول .
۷- د ملي راډیو تلویزیون داداري پرخپرنیزو، اداري او مالي چارو باندې څارنه .
۸- د ملي راډیو ټلویزیون د اداري دبودجې تدقیق او دټولیزو رسنیو عالي شوري ته د هغې وړاندې کول.
۹- د ټولیزو رسنیو عالي شوري ته دکلني رپوټ وړاندې کول.

**د افغانستان دملي راډیو ټلویزیون کمېسیون**

**څلورڅلوېښتمه ماده:**

(۱) دملي راډیو ټلویزیون د اداري دچارودښه تنظیمولو په مقصد ، دملي راډیو ټلویزیون کمېسیون داوو غړو په ترکیب د دریو کلونو لپاره جوړېږي .

(۲) ددغې مادې په لومړۍ فقره کې د درج شوي کمېسیون په غړو کې دقوم اوجنسیت د انډول له په پام کې نیولوسره یو تن دیني عالم، یو تن حقوق پوه ، یو تن مسلکي انجنیر، یوتن خبریال، یوتن مسلکي هنرمند، یو تن د مدني ټولنې استازی اویوتن دملي راډیو تلویزیون داداري استازی شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) ددغـې مـادې پـه دوه يمـه فقـره کـې درج شـوی کمېـسيون لاندی دندې او واکونه لري :

۱- د ملي راډيـو ټلويزيـون د ادارې د خپلـواکۍ، نـا پلـوۍاو مـسلکي حيثيت ساتل .

۲- دملي راډيو ټلويزيون دادارې دبودجې له تطبيقولو څخه څارنه.

۳- دټـوليزو رسـنيوعالي شـوري تـه د ملـي راډيوټلويزيـون دادارې دفعاليتونو دکلني رپوټ وړاندې کول.

۴- د ملي راډيو ټلويزيون دادارې دپياوړتيا لپاره د کورنيو او بهرنيو مرستو جذبول.

۵-د ملـي راډيـو ټلويزيـون دادارې د اساسـنامې اواړونـدوقوانينو د حکمونوله پلې کولو څخه څارنه.

۶- د ټـوليزو رسـنيو د عـالي شـوري لـه خـوا د ټاکـل شـوې خپرنيـزې پاليسۍ له پلې کولوڅخه څارنـه، پـه داسې توګه چې د افغانستان د ټولو خلکود فرهنګي،ژبني او قومي تنوع ښکارندويي وکړي.

(۴) د افغانستان دملي راډيو ټلويزيون دکمېسيون غړي د يو مناسب حـق الحـضور مـستحق دي چـې د ملـي راډيـو تلويزيـون دادارې لـه بودجې څخه ورکول کېږي .

## لسم فصل
## هغه آثار او مطالب چې توليد ، چاپ او خپرول يې منع دي

### دممنوعه مطالبو خپرول

**پنځه څلويښتمه ماده:**

